د افغانستان اسلامـــــــــــــي امارت
د کــــــورنيو چــــــــارو وزارت
د مقام د دفتر لــــــــوی رياست
د کـــــزارشاتو رياست
د گزارشاتو لوی مديريت

د بيرنوالي کچه: نورمال / بيړني / پټ / ډيرپټ
د محرميت کچه

گنـه: ۱۶۳۸
رسيدات: ۹۲۹
نېټـه: ۲۷/ ۳/ 1447 هـ ق / / 1404هـ ش
ضمايم:( ) پاڼه
غورچان : د هېواد په بندرونو کې د اطفائيوي ستونزو په اړه لنډ راپور.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء عالي مقام قدرمن اقتصادي معاونيت ته !**

**السلام عليکم ورحمة الله و برکاته؛**

د دې وزارت د امنيتي چارو سترمعينيت د (560) گڼې 1447/3/2 نېټې ليک په وسيله د پېښوته د رسېدو او داوروژني لوی رياست (237) گڼه 1447/2/29 نېټه ليک په لاندې ډول را ليږلی:

" لکه څرنگه چې ستاسو لوړ مقام ته معلومه ده چې پېښو ته د رسېدو او اوروژني لوی رياست هرې پېښې ته د رسېدو او اوروژنې دنده په غاړه لري، همدا رنگه داور لگېدنې د مخنيوي او وقايوي اطفائيوي امنيتي تدابيرو مسئوليت او ژمنتيا دنوموړي رياست د دندو څخه ده چې په همدې موخه د هېواد په يو شمېر بندرونو کښې د اطفائيې وقايوي تدابير په نظر کې نه دي نيول شوي چې د بېلگې په توگه د هرات ولايت د اسلام قلعه او تور غنډۍ بندرونو د اطفائيې آمريتونو په (49) گڼې 1447/2/22 نېټې مکتوب، د فارياب ولايت د آقينې د بندر د اطفائيې آمريت (13) گڼې د 1447/2/22 نېټې مکتوب، د نيمروز ولايت د زرنج د ښار گمرک د اطفائيې آمريت، د فراه ولايت د ابوالنصر.فراهي د بندر راپورونه رارسيدلي دي چې په بندرونو کې د تېلو ټانکرونه چې شمېر يې سلگونو موټرو ته رسيږي او د اړوندې اداري لخوا د تېلو کيفيت ئې منفي ښودل شوي په بندرونو کې د ډيرې مودې راهيسې ودرول شوي دي چې د اطفائيوي امنيتي تدابير په هيڅ ډول نه دي مراعات شوي.

ز مونږ رياست د مالیې محترم وزارت د کنټرول او کيفيت رياست سره په پورتنې ستونزو مجلس وکړ ياد رياست د معلوماتو وروسته وويل چې دا بې کيفيته تيل دي چې منفي ښودل شوي دي په هيڅ وجه نه گمرک کيږي او د افغانستان د اسلامي امارت د مقاماتو د هدايت سره سم بې کيفيته تيل بايد بېرته هغو هېوادو ته استرداد شي چې له کومو هېوادو څخه سوداگرو اخيستي دي.

چې دغه مسئلې په گمرکاتو کې ستونزې رامنځته کړې دي.

سوداگر خپل تيل بېرته هغو هېوادو ته نه انتقالوي او د کنټرول او کيفيت د رياست د نتيجې په پايله کې بې کيفيته تيل نه گمرک کيږي، نوله همدې کبله په سلگونو ټانکرونه د بندرونو په گمرکاتو کې ولاړ پاتې دي. لکه څرنگه چې د دوبي موسم ده او هوا هم ډيره گرمه ده، که چيرته خدای مکړه په گمرکاتو کې داور لگېدنې پېښه رامنځته شي نو د اطفائيې امکانات او وړتيا په هغه کچه نه ده چې لوېې پېښې ته رسېدنه وکړي او هغه مهار کړي، مخکې کلونو کې د هرات د اسلام قلعه په بندر کې، د کابل د ارغندي په دروازه کې، او د کابل د (۱۷) ناحيې د کوتل په دروازه کې هم د تيلو په ټانکرونو کې اور لگيدلی و چې ډېر زيات مالي خسارې او جاني تلفات يې درلودل.

نوله ددې لپاره چې بياځلې داسې پېښې را منځته نه شي، ستاسو لوړ مقام ته په ډير درنښت وړانديز کوو چې پورتنۍ ستونزې د اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت او د وزيرانو شورا سره شريکه شي ترڅو دلوړو مقاماتو لخوا له ملي سوداگرو سره دغه ستونزه حل کړي او په دې هکله يو بيړنی تصميم ونيول شي چې خدای (ج) مکړه داور لگېدنې پېښه رامنځته نه شي. "

پورتني معلومات ستاسو محترم مقام ته وړاندې شول، څرنگه چې لازم گڼې په اړه يې اړوندو ادارو ته لازم هدايت ورکړئ. **والسلام**

**مولـــــوي محمـــد نبي "عمـــري"**
**دکورنيو چارو وزارت لومړی معاون اوکفيل**

قيد وارده : ۱۳۹۹۶
۱۴۴۷/۳/۲۸

۱۴۴۷/۳/۲۸ ۹۰۷

کاپي د امنيتي چارو محترم ستر معينيت ته

دخيبور وړ د وزارت نه بهر
هو / نه

پته: د هوائي ډگر خلوينت متره واټ کابل- افغانستان
د اړيکو شميره: 0202201772
ويب سايت: www.moi.gov.af